# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com　　www.afgazad.com

| اجتماعی | Social |
| --- | --- |



محمدامین بسمل


۱۰/۰۷/۲۵



## ددرانه استاد افغان فیلسوف  اسد اسمایي

## لمړی تلین او زموږ بې غوري

د ګران استاد لمړی  تلین هم  دا دی  راغی خو نه  يې سرکار ياد وکړ او نه  کوم يار يوازې  **عبدالمالک بېکسيار** د بېکس او مسکين استاد په ياد خپل قلم وژړاوه  زه چې د ګردون په دې لوی سمندر کې سرګرداني  غوټې وهم، د قدرمن استادلمړی تلين  نږدې  را ښخه  هېر شوی  وخو دبېکسيار دې الله يار وي چې  متوجه يې کړم اوس مې نو دا زړه  په ګران او درانه استادپسې داسې نری نری وخوږېد چې داوږدې ليکنې وس  را سره نشته، د استاد رنګ اوخاطرې مې په زړه او سترګو  داسې را وريږي لکه په شاړودښتو  پر له پسې بارانونه .

ارمان ارمان چې  ژوند وفا نه لري  هو!

ژوند که وفا نه لري خو نه به يې لري  حيران خو دا بن ادمانو ته يم  چې  په  دې کم  او بې وفا عمر کې هم  يو د بل  په قدر نه  پوهيږي په  يو اوبل يې بنه ورځ نه لوريږي يوچې هڅاند او  ور تيا ولري دابل بيا هلته ورته خبنميږي .

د نړۍ په مخ کم کسان دي چې دانسان او انسانیت له لويې فلسفي سره اشنايي او مينه لري استاد يوله همدې ډول کسانو څخه و.

تر کومه چې ما ته پته ده استاد د انسانانو په حال ډېر ځورېده هغه به د تيليفون په کرښه له خپلو دوستانو سره ګړۍ ګړۍ تېرولې پام به يې غلطاوه هغه ټول درد درد و کله کله خو به يې دبېوسې داسې اوږد اه له خولې څخه راووت چې په دا مغزو به مې ديو تندر په ډول ولړېد خو ما به په يوه داسې ټوکه بلې خوا ته بوت چې دی به هم حيران شو خو خبرې به يې نه خلاصېدې هغه دخدای (ج) په دالويه نړۍ کې ډېر تنګ راغلی و دځان دتسکين او

ارامولولپاره يې درانه شعرونه له خوږې موسيقي سره تل اورول دهرچا ډهل او ډومبک ته يې غوږ نه نيو استاد له سپېڅلتيا څخه ډک او خاکسار انسان و هغه دميني او درناوي په قدر ښه پوهېده استاد دومره لايق و چې په يوه وړه جمله کې به يې کتابونه ونغښتل هره خبره يې دکاڼي کرښه وه خو ارمان ارمان چې نه خو په ژوند چا وپاله او نه په مرګ اوس چې له موږ تللی اود تل لپاره له سختو دردونو څخه فارغ شو اروا دې ښاده او موږ ته دې الله پاک ددې وس راکړي چې دانسان او انسانيت په درد وخوږل شو.